يَعْقِدُ الشَّيْطَانُ عَلَى قَافِيَةِ رَأْسِ أَحَدِكُمْ إِذَا هُوَ نَامَ ثَلاَثَ عُقَدٍ يَضْرِبُ كُلَّ عُقْدَةٍ عَلَيْكَ لَيْلٌ طَوِيلٌ، فَارْقُدْ

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: «يَعْقِدُ الشَّيْطَانُ عَلَى قَافِيَةِ رَأْسِ أَحَدِكُمْ إِذَا هُوَ نَامَ ثَلاَثَ عُقَدٍ يَضْرِبُ كُلَّ عُقْدَةٍ عَلَيْكَ لَيْلٌ طَوِيلٌ، فَارْقُدْ، فَإِنِ اسْتَيْقَظَ فَذَكَرَ اللَّهَ، انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ، فَإِنْ تَوَضَّأَ انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ، فَإِنْ صَلَّى انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ، فَأَصْبَحَ نَشِيطًا طَيِّبَ النَّفْسِ، وَإِلَّا أَصْبَحَ خَبِيثَ النَّفْسِ كَسْلاَنَ». «کله چې ستاسو څخه یو څوک ویده شي نو شیطان یې د سر شاته برخې ته درې غوټې ورکړي او له هرې غوټې سره ورته وایې چې مخې ته دې لویه شپه ده نو ویده شه، که چېرته راویښ شو او الله تعالی یې یاد کړ، نو یوه غوټه یې خلاصه شي، او که اودس یې وکړ (بله) غوټه یې خلاصه شي او که چېرته یې لمونځ وکړ بله غوټه یې خلاصه شي، نفس یې پاکیزه او تازه شي، که نه نو په داسې حال کې به پرې سبا شي چې تمبل او مردار نفس لرونکی به وي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د شیطان حالت او د هغه چا سره د مبارزې په اړه خبر ورکوي چې غواړي د شپې یا سهار لمانځه لپاره پاځېږي. نو مؤمن انسان چې کله ویده شي، شیطان یې څټ یعنې: د سر شاته برخې ته درې غوټې ورکړي. کله چې مؤمن له خوبه راویښ شي او د الله جل جلاله ذکر وکړي او د شیطان وسوسې ونه منې؛ نو یوه غوټه خلاصه شي. او کله چې اودس وکړي دویمه خلاصه شي. او که پاځېده لمونځ یې وکړ دریمه غوټه هم خلاصه شي، نو تازه او پاکیزه راپاځیږي، او خوشحاله وي پدې چې الله تعالی د بندګ توفیق ورکړ، او پدې چې الله تعالی ورسره د اجر او بخښنې ژمنه کړې ده، سربېره پر دې د شیطان له غوټو او تړلو یې هم خلاص کړ، که نه نو مردار به پروت وی، زړه به یې خفه و او د خیر او نیکۍ په کارونو کې به سست وی؛ ځکه چې د شیطان په زنځیرونو تړلی او د رحمن ذات له نږدې کیدو به لرې وی.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3731